اهمه مسئله چې کومه ده سپیکر صاحب، په ټوپي ایم سی کښې هغه وخت کښې یوسی ایسټ او ویسټ وو، په هغې کښې درې څلور ټیوب ویله شوی دی او هغه تر نن ورځې پورې لکه د هغې پکښې څه ذکر نشته چې یره آیا دا چا کړی دی لکه؟ خو هغه وخت کښې د ټی ایم اے د صوابئ په دغه کښې شوی دی نو د هغې ذکر پکښې نشته دے څکه دیکښې زما 'مین' مقصد دا وو چې آیا د دې وضاحت به پکښې کیږی که نه کیږی؟ زه د منسټر صاحب نه د دې وضاحت غواړم چې ایم سی ټوپي کښې چې هغه وخت کښې یوسی ایسټ او ویسټ وو، هغې کښې چې کوم UNDP د ټی ایم اے صوابئ په دغه باندې کوم واټر سپلائی سکیمونه کوم شوی دی، د هغې څه پوزیشن دے؟ د هغې د ما ته وضاحت اوکړے شی۔

جناب سپیکر: عنایت خان!

جناب عبدالکریم: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: کریم خان۔

جناب عبدالکریم: جناب سپیکر صاحب، شکریہ۔ هم دغه رنګې په ایم سی تور ډهیر کښې سر! دوه ټیوب ویله، ټینکئ هم دغه رنګې څنګه چې شیراز خان وائی دغه پراجیکټ کښې هغه وخت شوی دی او تقریباً دوه کاله اوشو چې کمپلیټ دی او هیڅ قسم دغه ئے نشته سر، دا هم ستاسو نوټس کښې راولم۔

جناب سپیکر: عنایت خان۔

سینیئر وزیر (بلدیات): جناب سپیکر صاحب! یو خو دا ټیوب ویل والا خبره چې ده اوکړه نو دا به لږ کتل غواړی، د هغې وجه دا ده چې Overlapping کیږی په محکمو کښې نو د Drinking Water Supply Schemes چې دی، دا لوکل ګورنمنټ هم کوی او پبلک هیلتھ انجینئرنګ ئے هم کوی، نو یا د چیف منسټر صاحب د طرف نه چرته سپیشل ډائریکټیو ایشو شی یا د هغې مختلف فنډز دی، د هغې لاندې هم ایم پی ایز صاحبان ورکوی، نو دا به اوس پته لګول غواړی چې یره دا سکیم د چا سکیم دے؟ لکه دا خو د لوکل ګورنمنټ کوم سکیمونه شوی دی ډیویلپمنټل نو د هغې تفصیل دوئ ورکړے دے۔ دا یونین کونسلې ستاسو ما صحیح وانۀ ورېدلې، ستاسو آواز سم نه راتلو چې ستا کومې یونین کونسلې دی۔

جناب سپیکر: شیراز خان۔

جناب محمد شیراز: گنی چھترا ، گنی چھترا۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: Basically عنایت خان! دا وائی چې گهبا سنئی یونین کونسل او گنی چھترا یونین کونسل، دا مطلب دیکښې تیس تیس چالیس چالیس واړه واړه کلی دی، ډیر غټ دغه دی۔

سینئر وزیر (بلدیات): او سر! دے دا وائی چې گنې لکه دیکښې ویلج ذکر نه دے شوے۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: اؤ۔

سینئر وزیر (بلدیات): دیکښې هم لکه مونږ او تاسو لکه Elected representatives یو، بعضې وخت کښې ممبران د خپل Convenience د پاره بعضې وخت کښې په نیک نیتئ او بعضې وخت په بل نیت باندې سکیمونه اوپن پریږدی، نو زما خیال داسې دے چې دا خو د 2008 نه واخله 13 پورې، دا د هغه پیریډ سکیمونه دی، که دے پکښې Further investigation کوی، ما ته پرې څه اعتراض هم نشته دے خو اوپن ئے، دا سکیمونه ئے اوپن پریښودې لکه دا چې ایم پی اے صاحب څنگه سکیم ورکړے وی نو ډیپارټمنټ ئے هم هغه Implement کوی چې کوم ویلج وائز دی او د ویلج نوم پکښې شته، نو هلته ویلج لیکلے شوے دے چې کوم ئے د ویلج په نوم نه دے ورکړے، اوپن ئے پریښودے د یونین کونسل په نوم ئے ورکړے دے نو دا ده چې کوم اوویل نو دا ئے د یونین کونسل په نوم باندې ورکړی دی، د ویلج ذکر پکښې نشته دے۔

جناب سپیکر: جی شیراز خان۔

جناب محمد شیراز: سپیکر صاحب! زه دا عرض کوم چې لکه ویلج نه وی ورکړی هغه خو څنگه سپیکر صاحب تاسو ته اوویل ځکه چې دوئ هغه حلقې سره Related دی نو هلته کښې لکه بیس تیس، تیس چالیس کلی دی په یو یو یونین کونسل کښې نو دا یو وضاحت ضروری پکار وو، ستاسو د خبرې سره زما اتفاق دے چې لکه دا ډهوک بوک پکښې هم شوی دی، کوم واضحه خبره چې ده لکه، نو د دې

صرف دغه دغه دے چې کوم شے دغه وی چې هغه مونږ میدان ته کړو، رنړا ته کړو چې آیا دا شے هسې په کاغذ کبنې شوے دے چې د دغې مونږ معلومات اوکړو۔ بل کوم خبره تاسو سوچ کوئ چې ټیوب ویل، سر! دې باندې کم از کم زما په نوټس کبنې خو دومره نه دی، دا کوم څلور ټیوب ویله چې زه تاسو ته وایم چې ټوپی ایم سی کبنې شوی دی، یوسی ایسټ او ویسټ په هغې کبنې تقریباً دا د آټھ کروړ دی یا د باره کروړ سکیم دے ، لکه تقریباً یو یو دغه باندې تین تین، ډهائی ډهائی کروړ روپئ لکه لګیدلې دی او دا کړی چې کوم دی نو هغه د یو این ډی پی فنډ کبنې ټی ایم اے صوابئ کړی دی، لکه هغه دغه شان دغه شوی دی نو یو خو هغوی دغه شان حواله کول، خو ما خپل لکه د ټوپئ ایم سی چې کوم سی ایم او دے ، دا هغه ته ئے Handover کول خو ما ورته اووئیل چې ته به دا نه اخلې ځکه چې زمونږ، مثال په طور خپل ته د سټریټ لائټس بل نشې ورکولې، دا ته څنګه ئے لکه اخلې خو هغه نیمګړی لکه هغوی سره ئے دغه کول خو لکه ما نه دی دغه کړی۔ زه وایم چې د دې د هم وضاحت اوشی چې آیا دا چا جوړ کړی دی، دا د چا په فنډ کبنې شوی دی؟ او چې شوی دی نو مطلب دے چې دا به منسوخ کول به غواړی۔

جناب سپیکر: شیراز خان! دې باندې Basically proper inquiry غواړی، دا سې ده کنه جی Proper inquiry چې په دې باندې وشی۔

جناب محمد شیراز: اؤ جی۔

سینئیر وزیر (بلدیات): تاسو سره مې اتفاق دے ، شیراز خان!۔۔۔۔

جناب محمد شیراز: جی۔

سینئیر وزیر (بلدیات): دا خو د یونین کونسل په نوم باندې دی خو زمونږ دیر بالا کبنې د پاک پی ډبلیو ډی د طرف نه سکیم ورکړے شوے دے "Drinking Water Supply Scheme Dir Upper" او د دې هیډ د لاندې د کروړونو روپو د پلاسټک پائپ تقسیم شوے دے او On ground دا پته نشته چې کوم ځائې کبنې دے ؟ PCC Road Dir Upper دا خو د یونین کونسل پورې ئے محدود کړے دے ، بیا ئے هم لا یو لیول ته راوستے دے۔ بل زه تاسو سره اتفاق کوم چې دا

Secretary ، کول پکار دی، Thrash out کول پکار دی، Further investigate
Local Council Board is around، زه هغه ته انسټرکشنز ورکوم چې عبدالکریم خان چې کومه خبره اوکړه، ستاسو د ټیوب ویل والا او ورسره چې تاسو کوم یونین کونسلو کښې سکیم ویلج نوم نه دے لیکلے شوے او یونین کونسل نوم لیکلے شوے دے ، هلته د Further investigate کړی، On ground د اوګوری چې دا سکیم په کوم ځائې کښې شوے دے ؟ Secretary Local Council Board is instructed، مطلب ان دونوں کے ساتھ وہ رابطہ کریں اور ان کو سنیں اور اس کے بعد Proper inquiry کریں۔

جناب سپیکر: اوکے، ٹھیک ہے جی، Proper inquiry به اوشی، انوسټی ګیشن به اوشی د هغې، ټهیک شو۔ کوئسچن نمبر 1966 ، شیراز خان۔

* 1966 _ جناب محمد شیراز: کیاوزیر آبنوشی ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) آیا یہ درست ہے کہ مالی سال 14-2013 میں محکمہ نے ضلع صوابی کیلئے مختلف سیکموں کیلئے فنڈ مختص کیا ہے؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو مذکورہ ضلع میں آبنوشی کیلئے مختص شدہ فنڈ کی تفصیل حلقہ وائز فراہم کی جائے؟

جناب شاہ فرمان (وزیر آبنوشی): (الف) جی ہاں۔

(ب) ضلع صوابی میں آبنوشی کیلئے مختص شدہ فنڈ حلقہ وائز درج ذیل ہے:

نمبر شمار	حلقہ	مختص شدہ فنڈ
1	PK-31	72.50 ملین روپے
2	PK-32	130.00 ملین روپے
3	PK-33	136.00 ملین روپے
4	PK-34	10.00 ملین روپے
5	PK-35	100.00 ملین روپے

6	PK-36	10.00ملین روپے
7	ممبر صوبائی اسمبلی محترمہ خاتون بی بی (مخصوص نشست)	10.00ملین روپے
8	ممبر صوبائی اسمبلی محترمہ عائشہ نعیم خان (مخصوص نشست)	20.00ملین روپے

جناب محمد شیراز: شکریہ جناب سپیکر۔"آیا یہ درست ہے کہ مالی سال 14-2013 میں محکمہ نے ضلع صوابی کیلئے مختلف سکیموں کیلئے فنڈ مختص کیا ہے؟"، "جی ہاں"۔(ب) کښې وائی چې "اثبات میں ہو تو مذکورہ ضلع میں آبنوشی کیلئے مختص شدہ فنڈ کی تفصیل حلقہ وائز فراہم کی جائے؟"، نو سپیکر صاحب! دا صفحه باندې د دې تفصیل لکه مخامخ پروت هم دے نو دا خو هیڅ هم نه دے خو ما نن دغه دغه کښې چې کوم دے ، دې اخری صفحو کښې مو چې او کتل نو د اے ډی پی 215، 16 او 17، نو هغه ځائې کښې حساب کوې نو لکه دا سې حلقې هم شته چې هلته کښې ډهائی سو او تین سو لکه مطلب دے ملین لکه په یو حلقه کښې دغه شوے دے نو زه صرف دا سوال کول غواړم او د دې هاؤس په وساطت باندې تپوس کوم چې آیا دا په کوم نهج باندې دا تقسیم شوے دے؟ سپیکر صاحب! چې که هغه د پسماندګۍ په حساب وی نو تا ته پته ده چې صوابئ ضلع کښې د ټولو نه پسمانده حلقه ده نو هغه زما ده خو اخر دا انصاف چې کوم دے دا به مونږ سره کله به انصاف کیږی ځکه چې دا د انصاف حکومت دے۔

جناب سپیکر: شاہ فرمان صاحب، شاہ فرمان۔

جناب شاہ فرمان (وزیر آبنوشی): ایک تو جناب سپیکر! مجھے لگ رہا ہے کہ Statistical detail جو دی گئی ہے، تھوڑی سی مجھے اس میں غلطی نظر آتی ہے کہ اپوزیشن ممبران کو، جن بھائیوں کو پیسے ملے تھے، اس میں سے 10 ملین شیراز صاحب کو اس میں Extra ملے تھے، یہاں Mention نہیں ہیں، باقیوں کو ایک ایک کروڑ ملے تھے، شیراز صاحب کو دو کروڑ ملے تھے، تو مجھے اس فگر کے اوپر بھی شک ہے کہ چونکہ ایک غلطی تو مجھے نظر آئی ہے، باقی میں چیک کرونگا کہ اس کے اندر کیا غلطی ہے لیکن اس دفعہ کم از کم وہ جو Last year ایک کروڑ روپے تھے، وہ اس دفعہ ایک کی بجائے دو کروڑ اپوزیشن کو اور میں مشکور ہوں کیونکہ وہ یا میں بھول جاتا ہوں یا میری عادت ہے، چیف منسٹر صاحب سے پوچھے بغیر میں نے دو دو کروڑ اپوزیشن کے، اس کے

علاوہ یہ جو شیراز صاحب نے بات کی ہے، Need based ہونا چاہیئے اور میں پھر سے اپنا Commitment دہراتاہوں کہ اگر کہیں جو کمی ہے تو میں یہ Commitment پھر سے دہراتاہوں کہ Need based ہو، جہاں پر ضرورت ہواس کیلئے پیسے پڑے ہوئے ہیں، تھوڑی بہت اس کے اوپر بیٹھ کر بات کی جاسکتی ہے، ضروری نہیں ہے کہ ہم ادھر بیٹھ کراس کے اوپر ڈیبیٹ کریں۔ میری خواہش ہے کہ سب کو Equal share ملے، ویسے اگر جناب سپیکر! 14-13 میں اگرایک کروڑاور چار کا تھا، اگرابھی دو اور چار کا ہے اور مجھے لگ رہا ہے کہ Next equal ہونگے، اپوزیشن اور گورنمنٹ کے ممبر کا Equal share ہوگا اور جناب سپیکر! بڑے معذرت کے ساتھ یہ آپ سے کہہ نہیں سکتے کیونکہ You are custodian of the House، وہ آپ کے حلقے میں جو 100 ہے، اس کے اوپر اس کو بہت اعتراض ہے، دو چار دفعہ اس نے مجھے کہاہے کہ سپیکر کا وہ ہے،۔۔۔۔۔ (قہقہہ)

(قہقہے)

<u>جناب سپیکر:</u> هغه دغه وائی کنه، وہ کہتے ہیں نا، هغه په پښتو کښې وائی کنه چې "اوبه په کمزوری ځائې ماتیږی"۔ (قہقہے) نو دوئ ته د ټولو نه کمزورے زه ښکاره شوم نو زما حواله ئے ورکړه۔

<u>جناب محمد شیراز:</u> سر! زما، سپیکر صاحب! زما اعتراض هم په تاسو باندې دے ځکه چې ستا میدانی علاقه ده، ستا په علاقه باندې دومره ضرورت نشته دے، شاه فرمان ته مې وئیلی وو هم دغه بالکل۔۔۔۔۔

<u>سردار اورنگزیب نلوٹھا:</u> سپیکر صاحب!

<u>جناب سپیکر:</u> جی نلوٹھاصاحب! نلوٹھاصاحب بات کریں۔

<u>سردار اورنگزیب نلوٹھا:</u> یہ جو اعداد و شمار بتائے گئے ہیں، اس میں میں سمجھتاہوں کہ محکمہ والوں نے کوئی غلطی سے لکھ دیاہے تو میری یہ ریکویسٹ ہوگی کہ اگر یہ اعداد و شمار محکمہ والوں نے غلطی سے لکھے ہیں تو منسٹر صاحب کی ذمہ داری تھی، اس کو کمیٹی میں سر! بھیجا جائے تاکہ یہ اعداد و شمار ٹھیک ہو جائیں، اگر یہ غلط لکھے ہوئے ہیں اور اگر یہ ٹھیک لکھے ہوئے ہیں تو جناب سپیکر صاحب! یہ تحریک انصاف کا یہی انصاف ہے

سر؟ یہ بڑے دکھ کی اور افسوس کی بات ہے کہ ایک ضلع کے اندر یہ اتنا امتیازی سلوک، فیمیل کو 20 ملین اور میل کو اگر 10 ملین ملے ہیں تو یہ بڑی ناانصافی کی بات ہے۔

جناب سپیکر: جی۔

وزیر آبنوشی: یہ Statistical detail ہے اور ہم ان شاءاللہ اس کو ٹھیک کر دینگے نلوٹھا صاحب! آپ فکر نہ کریں، یہ اتنی بڑی غلطی نہیں ہے، یہ ہم کر سکتے ہیں۔

(قہقہے)

جناب سپیکر: صحیح ہے، اوکے۔ کوئسچن نمبر۔۔۔۔

جناب عسکر پرویز: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: جی جی، یہ دیکھیں ہمارے پاس صرف دس منٹ ہیں، جنہوں نے محنت کی ہے، مجھے ان کو بھی موقع دینا ہے نا جی۔ وہ بخت بیدار صاحب کا کوئسچن پھر رہ جائے گا، وہ پھر لڑے گا۔

جناب عسکر پرویز: میرا ایک چھوٹا سا سوال ہے۔

جناب سپیکر: یہ شیراز صاحب کا Next ہے، کوئسچن نمبر 1967۔

* 1967 _ جناب محمد شیراز: کیا وزیر آبنوشی ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) مالی سال 09-2008 تا 13-2012 کے دوران حلقہ PK-36 میں واٹر سپلائی سکیموں کیلئے فنڈ مختص کیا گیا تھا؛

(ب) اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو منظور شدہ فنڈ سکیم وائز اور ویلج وائز فراہم کیا جائے، آیا یہ سکیمیں مکمل ہو چکی ہیں؟

جناب شاہ فرمان (وزیر آبنوشی): (الف) ہاں۔

(ب) تفصیل درج ذیل ہے:

سال 10-2009

نمبر شمار	نام سکیم	نام گاؤں	لاگت	کیفیت
01	واٹر سپلائی سکیم باجا	باجا	5.700 ملین	مکمل ہوا ہے

02	واٹر سپلائی سکیم کیارا	ٹوپی	3.784ملین	مکمل ہوا ہے
03	واٹر سپلائی سکیم مٹونہ	ٹوپی	5.104ملین	مکمل ہوا ہے
04	واٹر سپلائی سکیم چینئ دیول	چینئ گدون	5.450ملین	مکمل ہوا ہے

سال11-2010

نمبر شمار	نام سکیم	نام گاؤں	لاگت	کیفیت
01	واٹر سپلائی سکیم گلہ	گلہ	ندارد	واپڈا سے لیا گیا
02	واٹر سپلائی سکیم سیرے	جھنڈہ	9.243ملین	مکمل ہوا ہے
03	واٹر سپلائی سکیم ملک آباد	ملک آباد	12.700ملین	مکمل ہوا ہے

سال13-2012

نمبر شمار	نام سکیم	نام گاؤں	لاگت	کیفیت
01	واٹر سپلائی سکیم ڈاگئ (گدون)	ڈاگئ	6.500ملین	مکمل ہوا ہے
02	واٹر سپلائی سکیم پنجمند	پنجمند	21.204ملین	مکمل ہوا ہے

جناب محمد شیراز: شکریہ جناب سپیکر۔ میرا سوال ہے "کیا وزیر آبنوشی ارشاد فرمائیں گے کہ مالی سال 09-2008 تا 13-2012 کے دوران حلقہ PK-36 میں واٹر سپلائی سکیموں کیلئے فنڈ مختص کیا گیا تھا؟"، "جی ہاں"۔(ب) میں ہے "اگر (الف) کا جواب اثبات میں ہو تو منظور شدہ فنڈ سکیم وائز اور ویلج وائز فراہم کیا جائے، آیا یہ سکیمیں مکمل ہو چکی ہیں؟"۔ جناب سپیکر، دلته مخې ته چې کوم تفصیل دوئ لکه ورکړے دے نو دیکښې باجا دے، کیارا دے، واټر سپلائی سکیم مټونه، ټوپی، چنئ ګدون، دا تاسو چې اوګورئ نو دا د 10-2009 سکیمونه دی او تر دې وخته پورې دا سکیمونو فنکشنل نه دی، یو ځومره د افسوس مقام دے چې یو واټر سپلائی سکیم باندې باره باره، پینځه پینځه کاله او شپږ شپږ کاله لګی نو زما لکه مخکښې هم دې هاؤس کښې ما ریکویسټ کړے وو چې یو پرائمری سکول جوړیږی نو د هغې د پاره هم لکه مطلب مې دا دے تاسو ټائم پیریډ ورکړئ، یو ټیوب ویل جوړیږی، د هغې د پاره هم تاسو ټائم فریم ورکړئ

چې دومره ټائم کېښې به دا تیاریږي، نو چې کله هلته نه تیار شي، څنګه اوس پرون زه د دوئ ډېر زیات قدر کوم چې وزیر تعلیم صاحب پرون یو دغه اوکړو چې کله یو سکیم باندې کار شروع وي، سکول 75% کار اوشي نو د هغې چې کوم پوسټونو د پاره دغه، نو زه د دې خبرې ډېر زیات قدر کوم او دا د دې هاؤس د پاره، د علاقې، د هر یو علاقې د پاره دا ډېره د بهترئ خبره ده۔ زه دغه شان منسټر صاحب ته هم دغه سوال کوم چې ستا سو چې کوم واټر سپلائی سکیمز، کوم ټیوب ویل کیږي، کوم دغه کیږي نو چې کله هغه مکمل شي نو پینځه پینځه کاله، درې درې کاله د هغې د هغه پوسټونو او دغه د پاره هم دغه نه راځي۔ بل دیکښې یو اهم نکته ده چې یو واټر سپلائی سکیم په درې کلومیټرو باندې، دوه کلو میټرو کښې لکه لرې وي نو په هغې باندې اوس Sanctioned posts چې کوم دے هغه مخکښې درې وو اوس هغه تاسو یو پوسټ لکه ورکوئ۔۔۔۔

جناب سپیکر: شکریہ جی۔ وہ آپ کی بات سمجھ گیا ہے، ٹائم شارٹ ہے تو اور بھی لوگ، شاہ فرمان خان، جی شاہ فرمان خان۔

(شور)

وزیر آبنوشی: جناب سپیکر! یہ جو واٹر سپلائی سکیم کے اوپر پہلے تین، پھر دو، پھر ایک آسامی ہوتی تھی، یہ اس گورنمنٹ نے نہیں کی، اگر یہ اس کی ڈیٹیل میں جائیں تو یہ پہلے سے ایسا ہے اور اگر ہاؤس یہ سمجھتا ہے کہ یہ اس کے اندر Inefficiency ہے اور لوگوں کو واٹر سپلائی میں ایک رکاوٹ ہے، اگر دو کی بجائے ایک ہے تو اگر یہ ہاؤس متفقہ فیصلہ کرلے اور ہر سکیم کے اوپر ایک کی بجائے دو کرلے تو ہمیں کوئی اعتراض نہیں ہے You are welcome، اگر یہ ایشو ہے، یہ بھی فیصلہ کریں، اس پر ہاؤس۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: اصل میں یہ کہتے ہیں کہ پانچ پانچ سال سے سکیمیں بنی ہوئی ہیں لیکن اس میں ایمپلائز نہیں ہیں۔

وزیر آبنوشی: جی سر۔ اس کے حوالے سے میں بالکل کم از کم شیراز صاحب، بات ان کی صحیح ہے، اپنے حلقے کی اگر ان کی کوئی ایسی سکیمیں ہیں کہ جن کو ایم اینڈ آر اور Rehabilitation fund کی ضرورت ہے اور فنکشنل کرنے کی ضرورت ہے تو یہ ڈیٹیل لے آئیں اور اس کے ساتھ بیٹھ کر جتنی بھی ضرورت ہو گی،

فنڈنگ اس کو کریں گے کیونکہ اگر سکیم کے اوپر خرچہ ہوا ہے اور فنکشنل نہیں ہے تو یہ بہت بڑی زیادتی ہے، پہلے جو Dysfunctional سکیمیں ہیں، ان کو فنکشنل کرنا چاہیئے، وہ سب سے Important ہیں، وہ شیراز صاحب کے ساتھ بیٹھ کر اس پر بات کریں گے۔

جناب سپیکر: شیراز خان! اوکے، ٹھیک ہے جی؟

جناب محمد شیراز: ٹھیک ہے جی۔

جناب سپیکر: بخت بیدار، کوسچن نمبر 1939۔

* 1939 _ جناب بخت بیدار: کیا وزیر مواصلات و تعمیرات ازراہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ:

(الف) کہ سال 14-2013 دیر لوئر میں محکمہ کے تحت کون کونسی سکیمیں منظور ہوئی ہیں؛

(ب) مذکورہ ضلع میں سکول کی سکیمیں کون کونسے حلقہ میں منظور ہوئی ہیں، نیز اس سال منظور شدہ روڈز اور ان کیلئے مختص شدہ فنڈز کی تفصیل حلقہ وائز فراہم کی جائے؛

(ج) مذکورہ ضلع میں ڈونرز کی امداد بالخصوص (JICA) کی امداد سے کونسی سڑکیں اور سکیمیں منظور ہوئی ہیں، نیز ان کیلئے مختص شدہ رقم کی تفصیل بھی فراہم کی جائے؟

جناب اکبر ایوب خان (مشیر مواصلات و تعمیرات): (الف) سال 14-2013 میں محکمہ مواصلات و تعمیرات کے زیر نگرانی ضلع دیر لوئر میں روڈز اور بلڈنگز کی سکیمیں منظور ہوئی ہیں جن کی تفصیلات جز (ب) میں دی گئی ہیں۔

(ب) سال 14-2013 کیلئے اے ڈی پی میں بلڈنگز سیکٹر کی جو سکیمیں شامل کی گئی ہیں، ان کی حلقہ وائز تفصیل درج ذیل ہے:

نمبر شمار	اے ڈی پی سکیم نمبر	حلقہ	سکیم کی تفصیل

خیبر پختونخوا میں 100 عدد پرائمری سکولز (برائے طلباء وطالبات) کو ضرورت کی بنیاد پر قائم کرنا:		12/130334	01
ایک عدد لڑکوں کا سکول	PK-94		(i)
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-95		(ii)
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-96		(iii)
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-97		(iv)
خیبر پختونخوا میں 50 عدد پرائمری سکولوں کا درجہ مڈل تک بڑھانا:		36/130336	02
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-95		(i)
ایک عدد لڑکوں کا سکول	PK-96		(ii)
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-97		(iii)
خیبر پختونخوا میں 25 ہائی سکولوں کا درجہ ہائر سیکنڈری لیول تک بڑھانا:		40/130340	03
ایک عدد لڑکوں کا سکول	PK-94		
خیبر پختونخوا میں 50 مڈل سکولوں کا درجہ ہائی لیول تک بڑھانا:		41/130241	04
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-94		(i)
ایک عدد لڑکوں کا سکول	PK-94		(ii)
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-95		(iii)
ایک عدد لڑکوں کا سکول	PK-95		(iv)
ایک عدد لڑکیوں کا سکول	PK-96		(v)
ایک عدد لڑکوں کا سکول	PK-96		

(vi)		PK-97	ایک عدد لڑکیوں کا سکول
(vii)		PK-97	ایک عدد لڑکوں کا سکول
(viii)			

محکمہ تعلیم کی طرف سے درج بالا سکولوں میں ضلع دیر پائیں کے مختص سکولوں کی نشاندہی ابھی تک نہیں کی گئی ہے۔مالی سال 14-2013 کیلئے اے ڈی پی میں روڈ سیکٹر کی جو سکیمیں شامل کی گئی ہیں، ان کی حلقہ وائز تفصیل درج ذیل ہے:

نمبر شمار	اے ڈی پی سکیم نمبر	حلقہ	سکیم کی تفصیل	تخمینہ لاگت
01	345/130669		ضلع دیر پائیں میں روڈز کی کشادگی اور بہتری	
02	346/130670	PK-95	مایار اسمار روڈ کی پختگی اور کشادگی	126.085 ملین
		PK-94	باجوڑ روڈ	14.818 ملین
		PK-95	تنگی بابا تا گجر روڈ	12.416 ملین
		PK-96	لال قلعہ کوٹو روڈ	17.955 ملین
		PK-97	بانڈہ شاہ تا استبنڑ ناوگئی روڈ	11.839 ملین

(ج) Emergency Rural Road Rehabilitation Project (ERRP) کے تحت (JICA) کے تعاون سے دیر لوئر میں درج ذیل سکیمیں منظور ہو چکی ہیں جن پر کام جاری ہے۔امید کی جاتی ہے کہ ساری سکیمیں سال مئی 2015 تک مکمل ہو جائیں گی:

نمبر شمار	نام سڑک	حلقہ	لمبائی	تخمینہ لاگت
01	ملاکنڈ درہ روڈ	PK-94	5.025 کلومیٹر	126.965 ملین
02	رباط درہ روڈ	PK-94	5.00 کلومیٹر	144.513 ملین
03	رسول بانڈہ روڈ	PK-95	6.20 کلومیٹر	240.079 ملین

135.433ملین	5.20کلومیٹر	PK-95	علی شیر شپنوکس روڈ	04

جناب بخت بیدار: جناب سپیکر صاحب، شکریہ۔ سوال نمبر 1939۔ دیکبنې زه د منسټر صاحب نه دا گزارش کوم که روډ سیکټر ته که دے اوگوری چې ښنګه پرون ایری گیشن منسټر صاحب مهربانی اوکړه، نن شاه فرمان پکښې مهربانی اوکړه، نو دے 97 حلقې ته د اوګوری چې دیکبنې دا فارن فنډ چې کوم دے 97 په دیکبنې نشته، ٹھیک ہے،97 نشته او دې بره اے ډی پی سکیم ته چې اوګورې، په هغې کښې97 هغه حلقې ته د اوګوری او بیا د 95، 94، 95او 96 ته اوګورئ چې دیکبنې څومره فرق دے ؟ کتنا فرق ہے؟توآپ سے انصاف کی توقع کی جاتی ہے۔

جناب سپیکر: اکبرایوب صاحب!

مشیر برائے مواصلات وتعمیرات: خان صاحب! 14-2013میں میں نہیں تھا،ابھی میں آگیاہوں،ان شاءاللہ آپ کا یہ کچھ نہ کچھ فرق نکالیں گے ان شاءاللہ،ٹھیک ہے نا؟ (قہقہہ)

جناب سپیکر: جی بخت بیدار صاحب! ٹھیک ہے؟

مشیر مواصلات وتعمیرات: ٹھیک کریں گے جی،ان شاءاللہ ضرور۔

جناب سپیکر: اوکے۔

جناب بخت بیدار: اوکے جی،مہربانی۔

جناب سپیکر: مفتی فضل غفور صاحب! آپ کا ایک کوئسچن لے سکتے ہیں،باقی کیلئے ہم معذرت کریں گے، ٹائم ختم ہے لیکن میں آپ کو،کوئسچن نمبر1940۔

مولانا مفتی فضل غفور: شکریہ جناب سپیکر۔ میرا کوئسچن نمبر1968جو ہے،میں اس پر۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: 1940۔

مولانا مفتی فضل غفور: ان کو یہ۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: 68،اوکے1968۔

مولانا مفتی فضل غفور: شکریہ جناب سپیکر۔ کوئسچن نمبر 1968۔ شاہ فرمان صاحب چلے گئے ہیں۔ جناب سپیکر، میں نے اس سوال میں صوبہ بھر میں آبنوشی سکیمز کے حوالے سے جو فنڈز کی ڈسٹری بیوشن ہوئی ہے۔۔۔۔۔

جناب سپیکر: اس طرح کرتے ہیں کہ شاہ فرمان صاحب اگر چلے گئے ہیں تو میں پینڈنگ رکھتا ہوں، Next اس میں اس کو ڈال لوں گا ان شاءاللہ۔ ٹھیک ہے جی اور 'کوئسچنز آور' ختم ہوتا ہے۔ ابھی ان شاءاللہ تعالیٰ بریک کے بعد باقی، یہ اس کے بعد کر لیں گے ان شاءاللہ۔

(اس مرحلہ پر ایوان کی کارروائی ملتوی ہوگئی)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے)

اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: یہ کچھ چھٹی کی درخواستیں ہیں، یہ ہاؤس کے سامنے رکھتا ہوں: جناب زاہد خان درانی صاحب، ایم پی اے 29-10-2014؛ جناب اعظم خان درانی صاحب، ایم پی اے 29-10-2014؛ جناب فریڈرک عظیم صاحب، ایم پی اے 29-10-2014؛ جناب طفیل انجم صاحب، ایم پی اے 29-10-2014۔ منظور ہیں جی۔

اراکین: ہاں۔

جناب شاہ حسین خان: جناب سپیکر! یو ضروری خبره ده۔

جناب سپیکر: ان شاء الله، هاں اوبه کړو، بالکل به اجازت درکوؤ خو Just دا کارروائی روانه کړو نو دا کوؤ، موقع درکوم درته دغه هم راشی، شوکت هم راشی کنه او۔۔۔۔

جناب شاہ حسین خان: جناب سپیکر صاحب! یو خبره کوم۔

جناب سپیکر: دا کوؤ، موقع درکوم درته، دغه هم راشی، شوکت هم راشی کنه او۔۔۔۔

جناب شاہ حسین خان: صحیح ده جی۔

جناب سپیکر: او دا هاؤس هم لږ پوره شی۔

تحریک التواء

جناب سپیکر: مفتی سید جانان، ایم پی اے، آئٹم نمبر 6۔

مفتی سید جانان: جناب سپیکر صاحب! ایوان کی معمول کی کارروائی روک کر مجھے ایک اہم نوعیت کے مسئلے پر بات کرنے کی اجازت دی جائے، وہ یہ کہ صوبائی حکومت ایک عرصہ سے نصاب تعلیم میں جس سے آنے والی نسلوں کا مستقبل وابسطہ ہے، تبدیلی کی کوشش کر رہی ہے جس سے علماء کرام اور عوام کے ساتھ ساتھ تمام مذہبی جماعتوں میں ایک تشویش پائی جاتی ہے، لہذا نصاب تعلیم میں ممکنہ تبدیلی پر مزید بحث کرنے کیلئے ایوان میں منظور کیا جائے۔

جناب سپیکر صاحب! د نصاب تعلیم متعلق خبره تقریباً یو مودې نه راروانه ده، کله بیان راشی چې نصاب کښې تبدیلئ کیږی-----

جناب سپیکر: اټینشن، پلیز۔ شهرام خان! پلیز تاسو، چونکه اهم ډ سکشن دے، پکار ده چې دیکښې تاسو خپل دغه اوکړئ چې کوم ډ سکشن دے، اوس-----

مفتی سید جانان: او څه مودې بعد بیا بیان راشی چې نه حکومتی پارټئ د ایجوکیشن محکمې هغه تبدیلئ واپس واخستلې چې مونږ تبدیلئ ورکښې نه کوؤ۔ جناب سپیکر صاحب، دغې تحریک التواء نه مخکښې مفتی فضل غفور صاحب دلته یو سوال راوړے وو اسمبلئ کښې چې آیا د دغه حکومت نصاب تعلیم کښې د تبدیلئ څه سوچ شته؟ دلته کښې د اسمبلئ په ریکارډ باندې به دا خبره موجود وی، منسټر صاحب وئیلی وو چې زمونږ هیڅ څه د تبدیلئ پروګرام نشته خو جناب سپیکر صاحب، دلته که زه څنې خبرې اوکړم، زه به بد ولګیږم خو د اسمبلئ د یقین دهانو څه داسې پوره وزن نشته، لکه دلته کښې کوم وزن پکار دے، هغه وزن ورکښې نه وی۔ مونږ ته خبره اوشی چې داسې به نه کیږی، بیا مونږ ګورو هم هغه شانتې کیږی۔ هغه بنیاد باندې دا مسئله جناب سپیکر صاحب! ما بیا راوړې ده۔ پیغمبر ﷺ فرمائی چې دا واړه بچی نه دی، چې کومو خلقو کښې د دغو بچو شفقت نه وی، د مشرانو عزت ورکښې نه وی، رسول ﷺ وائی چې دا زما د امت نه نه دی او دا بچی پیغمبر ﷺ فرمائی چې دا سپین کاغذ دے، که په

سپین کاغذ باندې ښې خبرې لیکې لیکې هم لیکلې شې او که بدې خبرې ورباندې لیکې هم لیکلې شې او جناب سپیکر صاحب، د نن بچی به راتلونکی وختونو کښې دا ستاسو په دغې کرسئ، زما په دغه کرسئ او د بل ممبر په دغه کرسئ به ناست خلق وی، که هغوی ته مونږ داسې تعلیم ورکړو چې د هغوی دغې خاورې سره محبت وی، د هغوی خپل مشرانو سره محبت وی، خپل دین سره ئے محبت وی جناب سپیکر صاحب! هغه خلق چې بیا دلته راشی، بیا به زما او ستا ترجمانی کوی، که چرې هغه خلقو ته زه نن داسې نصاب پړهاؤ کړم، داسې تعلیم ورته ورکړم چې هغه دلته زما په کرسئ ناست وی خو د بل چا ترجمانی کوی، هغه دلته ناست وی خو د بل خلقو، د نورو خلقو ترجمانی کوی، هغه دلته ناست وی زما د خاورې، زما د ملک، زما د صوبې مراعات اخلی او ترجمانی د نورو خلقو کوی، جناب سپیکر صاحب! زما به دا گزارش وی، دا به مې درخواست وی او دا به مې استدعا وی چې تعلیم نه به ټوقې نه جوړوؤ، د یو وخت نه چې مونږ کوم گورو یو گپ شپ شروع دے، یو داسې انداز کښې دا نصاب تعلیم راځی چې د راتلونکی نسلونو د پاره به دا فائده مند نه وی۔ جناب سپیکر صاحب، زه دا گزارش کوم چې دا د کمیټئ ته لاړ شی۔ غالباً غالباً سن 2006 او 07 کښې یا د دې نه لږ مخکښې یوه مسوده جوړه ده، هغه مسودې کښې ئے دا لیکلی دی چې نصاب تعلیم به څوک جوړوی او څنگه به ئے جوړوی، په کومې طریقې باندې به ئے جوړوی؟ زما به دا گزارش وی چې هغه خلق مونږ نه مخکښې لاړ دی، د هغوی به په دې حالاتو باندې مکمل عبور وی، هغوی به دغه حالات پیژندلو، د هغې مطابق به مطلب دا دے هغوی یوه مسوده جوړه کړې وی۔ زما به دا گزارش وی چې نصاب تعلیم مونږ نور اونه چیړو، نصاب تعلیم په خپل ځائې باندې پریږدو، که مونږ سیاست کوؤ، زما د سیاست نور ځایونه ډیر دی، که بله پارټی سیاست کوی، د هغې د سیاست نور ځایونه ډیر دی، مونږ به جلسې او جماتونو کښې سیاستونه اوکړو خو صرف نصاب تعلیم به د خپل سیاست میدان نه گرځوؤ، دې پورې به مطلب دا دے دا خپل سیاست محدود نه ټرو۔ زما به دا گزارش وی که سټینډنگ کمیټئ ته لاړ شی چې هلته کښې مونږ د سن 2005 او 06 یا د دې خواؤشا مسوده اوگورو او دغه اوگورو چې اوس روان دی، هغې

کښې علماء، د تعلیم خلق، نور د معاشرې پوهه خلق را اوغوښتلې شی چې د دې یوه جائزه واخستلې شی، د هغې نه بعد یو نصاب تعلیم مرتب کړلے شی۔

جناب سپیکر: عاطف خان!

جناب محمد عاطف (وزیر برائے ابتدائی وثانوی تعلیم): بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَـٰنِ ٱلرَّحِیمِ۔ Important issue ده، ښه ده چې ممبر صاحب پوائنټ آؤټ کړه، ډ سکشن پرې مونږه اوکړو نو ښه ده Clarity به راشی، هغه هاؤس ته ټولو ته۔ مختلف دغه نه، کله یو طرف نه دغه راځی چې دا شے پکښې واچوؤ او څوک وائی دا ترې اوباسه، عجیبه غوندې یو کنفیوژن دے خو زه مولانا صاحب ته یو خبره کلیئر کوم، مخکښې هم ما دا خبره کړې وه، اوس هم تاسو که زمونږ جواب اوګورئ، جواب هم هغه دے، جواب هم هغه دے۔ نصاب تعلیم Basically، نصاب وائی Curriculum ته، Curriculum کښې نه څه چینجز مونږ راوستی دی او نه اوس په نوی فیوچر کښې په Curriculum کښې د چینجز راوستو د پاره زمونږ څه پروګرام شته، یو خو دا خبره بالکل کلیئر کړئ، مطلب دا دے زه Categorically د دې هاؤس مخامخ کلیئر کول غواړم۔ باقی د کتاب که تاسو خبره اوکړئ، په کتاب کښې هم، په کتاب کښې څه لږ ډیر چینج راځی، یو به اول دا کلیئر کوؤ چې دا کوم موجوده نصاب دے، بابک صاحب هم چونکه وزیر تعلیم پاتې شوے دے، هغوی ته به د ټیکنیکل ډیټیل د دې ټولو به پته وی، دا په 2006 کښې چې کله د ایم ایم اے ګورنمنټ وو، په هغه وخت کښې دا National curriculum جوړ شوے وو، د ټول پاکستان په سطح باندې National curriculum جوړ شوے وو 2006 کښې او د هغې په Basis باندې، د Curriculum په Basis باندې بیا ورو ورو کتابونه پرنټ کیدل شروع شو۔ ستاسو حکومت بیانوؤ، بیا کتابونه چې ټول څومره پرنټ شوی دی، هغه د تیر حکومت په دور کښې تقریباً کتابونه په هغې کښې پرنټ شوی دی، زمونږ په دور کښې څه نه دی شوی او نه موجوده، اوس زه بیا دا Clarity راولم، یو خو نمبر ون چې د Curriculum 2006 دے چې کوم وخت کښې د ایم ایم اے ګورنمنټ وو، National curriculum د ټولو صوبو د پاره، د ټول پاکستان د پاره جوړ شو، د هغې په Basis باندې بیا کتابونه پرنټ کیدل شروع شو چې کوم کښې تقریباً کتابونه د 2013 پورې د 2006 نه واخله Step by

step کتابونه پرنټ کیدل، 2013 پورې تقریباً هغه کتابونه پرنټ شوی وو۔ مونږ په دیکښې په نصاب کښې هیڅ څه چینځ نه راولو او نه مو راوستے دے، که تاسو صرف دغه، یو څوکتابونه بیل شے دے او نصاب بیل شے دے خو زه تاسو سره یو Clarity راولم او ایشورنس درکوم ان شاء اللّٰه تعالیٰ چې الحمدللّٰه مسلمانان یو، هیڅ به داسې زه دلته په دې هاؤس کښې Clear cut تاسو ته درکوم چې هیڅ شے به د دین خلاف، د پیغمبر علیه السلام خلاف Statement

(تالیاں) د تاریخ خلاف، د نظریه پاکستان خلاف ان شاء اللّٰه تعالیٰ هیڅ څه داسې شے به نه راځی چې په هغې باندې به چا ته څه اعتراض وی، دا زه Clear cut یو Policy statement تاسو ته درکوم جی۔ مهربانی۔

جناب عنایت اللہ {سینئیر وزیر (بلدیات)}: جناب سیکر!

جناب سپیکر: عنایت خان! دې باندې تاسو Viewpoint ورکوئ خپل؟

سینئیر وزیر (بلدیات): جی۔

جناب سپیکر: اوکے، بیا څه چې کوم دغه وی، هغې ته به دا اوکړو۔

سینئیر وزیر (بلدیات): بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ۔ شکریه جناب سیکر صاحب۔ دا څنګه عاطف خان اووئیل، دا ډیره Sensitive issue ده، اهم ایشو ده او Unfortunately د تیر شوې هفتې لس ورځو نه خو بیا میډیا کښې، الیکټرانک پرنټ میډیا کښې ډیره زیاته لکه ډیبیټ پرې روان دے او خبرې اترې روانې دی، اخبارونو کښې هم Highlight شوې ده۔ د مفتی صاحب مشکور یو چې دومره اهم ایشو ئے په ایوان کښې اوچته کړه چې د هغې په نتیجه کښې مونږ ته دې هاؤس ته بریف کول او دې ته صحیح صورتحال مخې ته د ایښودلو موقع مونږ ته ملاؤ شوه۔ جناب سپیکر صاحب! هغه وضاحت اوکړو، عاطف خان وضاحت اوکړو چې Curriculum، د Curriculum 2006 دے او نه چینج کیږی۔ Curriculum هغه ګائیډلائنز وی چې د هغې په رڼړا کښې ټیکسټ بک لیکلے کیږی او 12 ,11 ,10 ,2008-09 کښې ټیکسټ بک لیکلے شوے دے او د Academia خلقو، ریسرچز، پرائیویټ ایجوکیشن نټ ورک، دې مختلفو خلقو د دې Curriculum په رڼړا کښې چې کوم ټیکسټ بک لیکلې شوے وو، د هغې

باره کښې Objections raise کړل، د هغې د پاره پمپلیټې شائع شوې، هغه مونږ ته رااورسیدلې، مونږ هغه اوکتلې او په هغې باندې ډیر په سړو دماغو باندې مونږ په ایجوکیشن کښې اوږده اوږده میټنګز اوکړل۔ دا د جماعت اسلامی او د پی ټی آئی او یا د یوې پولیټیکل پارټۍ ایشو نه ده، دا زمونږ د عقیدې او زمونږ د ایمان ایشو ده او زما یقین دا دے چې دا په دې ایوان کښې مونږ ټول داسې خلق ناست یو، که په دې مخامخ میزونو چې څوک خلق ناست دی، که د اے این پی سره ئے تعلق دے، د پیپلز پارټئ سره ئے تعلق دے، د مسلم لیګ سره ئے تعلق دے، د جے یو آئی سره، مونږ ټول جی بحیثیت مجموعی مسلمانان یو او پښتون چې دے نو پښتون چې که د هر پولیټیکل پارټئ سره تعلق ساتی خو د اسلام په Basics باندې چې دے هغه ایمان لری او د پیغمبر علیه السلام ذات د هغه د پاره محترم وی د هر مسلمان د پاره۔ د دې وجې نه څه څیزونه په هغې کښې داسې شوی وو، مونږ نه Blame کوؤ، زوړ ګورنمنټ نه Blame کوؤ چې Knowingly ئے کړی دی، Unknowingly ئے کړی دی، د چا دغه دے، ټیکسټ بک رائټرز دا کار کړے دے خو هغه څیزونه داسې وو چې هغه Objectionable وو، بلکه زه خو به دا وایم چې هغه د برداشت قابل هم نه وو، لکه د سائنس چې څومره بکس دی، بیالوجی، کیمسټری، فزکس د دې نه ټول قرآنی آیات چې دی نو لکه چې کوم Relevant وو، هغه قرآنی آیات ترینه Remove کړی وو، د ټولو مسلمانانو سائنسدانانو تذکره ترې Remove شوې وه او د چار کلاس په معاشرتی علوم کښې د نبی ﷺ او د خلفائے راشدینو Essay چې دے پوره Chapter لرې شوے وو۔ د 9th کلاس انګلش کښې The voice of God, The voice of Prophet ﷺ مضمون په Helen Keller باندې Replace شوے وو، د Giant باندې او د حضرت عمرؓ مضمون په قائد اعظمؒ باندې لکه Replace شوے وو او داسې نور ډیر زیات کیسونه دی، لکه د کشمیر نقشه چې ده نو دا کلاس ټو کښې د هندوستان حصه ښودلې شوې وه۔ دا هغه Glaring mistakes وو او د دې نه نور هم زیات وو چې هغه مونږ د هغې پوائنټ آؤټ کړل، په هغې مونږ خبرې اوکړې، هغه مونږ د Ideology of Pakistan، The Constitution of Pakistan په رڼړا کښې اوکتل، د پاکستان د Constitution چې څومره اسلامی دفعات

دی، زه خپله Pakistan studies ما Teach کړې ده، په دې تیر شوی پینځه کاله کښې مې Teach کړې ده په یو کالج لیول باندې، هغه تذکره Repeatedly د 2006 نه واخله، د 6^{th} کلاس نه واخله د 11^{th}, 10^{th} کلاسه پورې دا Repeatedly د اسلامی دفعاتو د Provision تذکره راځی، هغه Remove شوی وو، نو مونږ واپس د هغې د بحالولو دغه اوکړو۔ ما ته په دې خبره لږ شان افسوس کیږی چې کله بعضې مخصوص سوچ او فکر والا خلق دا خبره اوکړی چې تنګ نظری، خلق د ماشومانو جینکو په سرونو باندې لوپټې چې دے نو دا ایښودل غواړی او هغه نه برداشت کوی چې د هغوی په سرونو د دغه نه وی، زه وایم چې زما په پاکستان کښې که څوک سیکولر دے، که لبرل دے او که پراګریسیو دے خو هغه په Skirt کښې نه ګرځی، Skirt is not my culture، Skirt چې دے دا زما دغه نه دے لکه د دې وطن لباس نه دے، د دې وطن، زه وایم چې د دې وطن په کتاب کښې د دې وطن لباس چې دے Reflect شی او که زما تصور اسلام وی نو زما کور والا خو پرده کوی، زما تصور اسلام خو دا دے چې بیا به هغه تصویر په دغه کښې راځی، په کتاب کښې راځی چې هغه بالکل Fully مخ هم پکښې پټ وی خو زه خو دا وایم چې د دې ملک عمومی کوم دغه دے چې کم از کم دوپټه هر څوک په سر باندې ایږدی، هغه که زمونږ په کتابونو کښې دا شان تصویرونه د زنانو راځی نو دا زمونږ عمومی Culture reflection دے، نو د دې وجې نه زه ایوان ته هم دا درخواست کوم، زه مفتی صاحب ته هم دا درخواست کوم چې دا بالکل د دې ټول ایوان جوائنټ مسئله ده، په دیکښې بالکل داسې څه خبره نشته چې ګنې لکه، او دا بالکل نه دی Politicize کول، ریکویسټ کوم۔ زه د دې وجې نه اپوزیشن چیمبر ته لاړم او ما مفتی صاحب ته هم ریکویسټ اوکړو او ما بابک خان ته هم دغه اوکړو چې دا بالکل زمونږ د ایوان جوائنټ خبره ده او ما ده ته دا خبره هم اوکړه، هلته ما دا هم اووئیل چې زه د باچا خان تذکره په هسټرئ کښې په دې دغه راځی چې هغه زمونږ د Subcontinent د هسټری یو کس دے، یو حصه پاتې شوې ده، ما ته په دې خبره باندې څه دغه نشته او بل زما اوس دا ده چې لکه یو خاص فکر Reflect کیدل، په دې باندې به زما طبیعت دغه وی، نو د دې وجې نه مونږ هغه کار کړے دے چې کوم ټولو خلقو ته Acceptable وی، په هغې

باندې مونږ Consensus ته رسیدلی یو او زه ریکویسټ دا کوم، مفتی صاحب ته درخواست کوم چې هغه خپل چې کوم ایډجرنمنټ موشن دے، هغه Further د غه نکړی Push نکړی او ان شاء الله تعالیٰ څنګه چې عاطف خان ایشورنس ورکړے دے، Being part of the Government زه هم دا ایشورنس ورکوم چې زمونږ په کتانونو کښې به او زمونږ په ټیکسټ بکس کښې به داسې څه میټیریل نه شاملیږی چې هغه زمونږ د عقیدې او زمونږ د ایمان او زمونږ د فکر او د Constitution سره به متصادم کیږی به نه۔

جناب سپیکر: زما خیال دے سردار حسین بابک او سکندر خان! تاسو به پرې خپل Viewpoint_____

جناب سردار حسین: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: اوکے۔ سردار حسین، سردار حسین۔

جناب سردار حسین: شکریه سپیکر صاحب۔ شکریه ادا کوؤ د مفتی جانان صاحب چې د تحریک التواء په ذریعه باندې څنګه چې منسټر صاحب هم خبره اوکړه، عناعت خان منسټر صاحب هم خبره اوکړه او بالکل په میډیا کښې د ډیر وخت نه زمونږ نه هم تپوسونه کیږی، بیا د حکومت نه هم تپوسونه کیږی، دا خبره کیږی چې په Curriculum کښې چینجز شوی دی، هغه چینجز چې دی هغه ختمیږی یا نوی چینجز چې دی هغه کیږی۔ سپیکر صاحب! دا ټوله تنازعه چې وه یا دا ټوله مسئله چې ده، دا به شاید نه وه او ما خو وقتاً فوقتاً په دې فورم باندې مونږ حکومت ته دا التجاء کړې ده چې بعضې مسئلې داسې وی چې هغه حکومتی نه وی، نه هغه سیاسی وی، هغه د دې صوبې د پاره وی، د دې وطن د پاره وی او که د هغې د پاره هغه لار چې دے هغه غوره کیدے چې د داسې قسم مسئلو نه مخکښې پارلیمانی لیډرز، سول سوسائټی او بیا د ډیپارټمنټ 'کنسرنډ' خلق او بیا په دې معاشره کښې د دې طبقې سره تعلق لرونکی خلق که هغه کښینولې شی، هغه On board شی، د هغوی Input واخستې شی، بیا دا مسئلې چې دی نه راپورته کیږی او نه د هغې بیا بیا وضاحتونو ته ضرورت وی۔ سپیکر صاحب! دیکښې هیڅ شک نشته چې دلته په دې صوبه کښې که مونږ صرف د سرکاری

ماشومانو بچو بچیانو خبره کوؤ، پنځوس لاکهه لګ بهګ ماشومان بچی بچیان دی او د هغوی په لاسونو کښې چې کوم کتابونه دی، دې ته سوچ پکار دے چې په دې کتاب کښې دننه دا متن چې دے په دیکښې څه دی، په مذهبی علومو کښې دننه په دې کتاب کښې څه دی، په سوشل سائنسز کښې یا په سائنسی علومو کښې دننه په دې کتابونو کښې څه دی، په تاریخ کښې څه دی، په معاشرتی علوم کښې څه دی؟ سپیکر صاحب! د 18th Amendment نه پس چې کله ایجوکیشن پراونشل سبجیکټ شو، ظاهره خبره ده د هغې نه مخکښې ایجوکیشن چې دے دا فیډرل سبجیکټ وو، د دې څلور واړو صوبو د پاره Curriculum چې دے یا Curricula چې ده، دا اختیار چې دے دا د فیډرل سره وو او دیکښې هم سپیکر صاحب! شک نشته چې دا وطن چې دے دا د قامونو مجموعه ده د قامونو، پاکستان یو قوم نه دے، پاکستان د قامونو مجموعه ده او دا یو تاریخی حقیقت دے، ظاهره خبره ده مونږ دلته پښتانه پاتې کیږو، هندکو سپیکرز پاتې کیږو، سرائیکی بیلټ والا پاتې کیږو، زمونږ خپل بودوباش دے، زمونږ خپل رسم و رواج دے، زمونږ روایات دی، زمونږ تاریخ دے، زمونږ ژبه ده او بیا دلته دوه درې خبرې داسې اوشوې او زما یقین دا دے منسټر صاحب چې کومه خبره اوکړه چې که په دې مونږ ټول ځان پوهه کړو چې Curriculum څه شے دے نو بیا شاید چې مونږ ته د ټولو سوالونو جواب چې دے هغه مونږ ته ملاؤ شی او دا هم ډیره زیاته ښه وه چې ډیرو خلقو به Blame لګوؤ چې دا اے این پی په Curriculum کښې دومره چینجز راوستی دی، چې کله اختیار دلته راغے مونږ په دې اسمبلئ کښې لیجسلیشن اوکړو، مونږ Curriculum wing چې دے هغه ډیکلیئر کړو او د این او سی اخستو د پاره اوس اسلام آباد ته تګ چې دے هغه په هغه شکل ضروری پاتې نشو ځکه چې آئین مونږ له دا اختیار راکړو، مونږ لیجسلیشن اوکړو، مونږ خود مختاره شو۔ نو چې کله مونږ خود مختاره شو سپیکر صاحب! دا کار مونږ، حکومت ته به زه دا لتجاء کوم چې دا دوئ په کوم طرف اوس دا کار روان کړے دے چې جماعت اسلامی ناست دے او تحریک انصاف ناست دے، ولې په دې ټوله صوبه کښې یواځې جماعت اسلامی او تحریک انصاف دے؟ زه ورله مثال ورکوم چې مونږ داسې کار اوکړو چې مونږ، ما پخپله

په اخباراتو کښې اشتهارات ورکړل، ما علماء کرام Invite کړل، ما پارليمنټيرينز Invite کړل، ما Educationist invite کړل، ما سکالرز Invite کړل، ما Intellectuals invite کړل او ما د دې ټولو طبقو خلق چې دے ، هغه ما Invite کړل او ما ورته په هغه اشتهاراتو کښې دا اوليکل چې د KG نه واخلئ تر Grade twelve پورې، دولسم جماعته پورې کتابونه اولولئ، تاريخ اولولئ، معاشرت اولولئ، سوشل سائنسز اولولئ چې په کوم ځائې کښې تاسو مناسب ګڼړئ چې تاسو دلته کښې چينجز کول غواړئ يا تاسو کوم څيزونه داسې وی چې ستاسو پرې تحفظات وی، Written form کښې تاسو مونږ ته خپل Input چې دے د هغې نه مونږه آګاه کړئ۔ سپيکر صاحب! زه دا خبره هم په ريکارډ راوستل غواړم چې نن عنايت صاحب دا خبره کوی، دا مونږ ټول خلق Invite کړی وو، دوئ که په حکومت کښې نه هم وو، په دې صوبه کښې دوئ پاتې کيدل، دوئ مونږ ته په هغه وخت کښې خپل Input نه دے ښودلے ، نن څنګه يو سړے دا خبره کوی او Blame لګوی؟ زه سپيکر صاحب، دا خبره کوم چې دا اوس هغه وخت نه دے چې د مسلمانئ سرټيفکيټ به خلق ورکوی، زه بالکل د دې خبره سره اتفاق کوم چې دا خبره د حکومتونو او د سياست نه بالاتر ده خو دا خبره کول چې د حضرت محمد ﷺ Chapter چې دے يا د هغه سبجيکټ چې دے هغه Replace شوے دے ، دا بالکل مبالغه آرائی ده، د هغې درجه بندی شوې ده چې په يو ځائې کښې د صلح حديبيه ضرورت وو، نن هغه کتاب راواخلئ چې هلته صلح حديبيه موجود ده که موجود نه ده؟ چې کومو سورتونو طرف ته اشاره اوشوه چې سورة انفال دے او که سورة ممتحينه، د هغې ضرورت پکار دے چې نن په ټوله دنيا کښې د Students mental capacity ته کتلې شی او د هغې مطابق Chapters چې دی، هغه په درسی کتابونو کښې اچولې کيږی، نو که درجه بندی اوشوه د 9th د کتاب نه يو دوه سورتونه يا يو دوه درې آياتونه هغه 10th ته لاړل يا هغه 11th ته لاړل يا هغه Grade twelve ته لاړل نو سوال دا دے چې دا د مذهب په نامه باندې دا Exploitation چې دے دا نه دے پکار، دا خبره کول چې ګڼې د اے اين پی دلته حکومت راغے نو نن که د باچا خان نوم په دغه کتاب کښې د دې مقامی عاقلانو په شکل کښې موجود دے نو دا خبره د خلق نه هيروی

چې باباجی ترنګزئی صاحب پکښې موجود دے، مفتی محمود صاحب پکښې موجود دے، چې د دې خاورې، په دې خاوره باندې څومره عاقلان وو، څومره اکابرین وو، که هغه د تعلیم سره متعلقه وو، که د خدائی خدمتګارانو سره متعلقه وو، که د سوشل وارډ سره متعلقه وو، هغه عاقلان چې دی، هغوی دلته اچولې شوی دی۔ د ماشومانو د یونیفارم خبره اوشوه، سپیکر صاحب! ماشومان ګلونه دی، پکار ده چې زمونږ د معاشرت عکاس وی۔ د ماشومانو په سر باندی دوپټه وی، بالکل ورسره مونږ اتفاق کوؤ او دا کار مرحله وار کار دے خو یو خبره به په ذهن کښې ساتو چې په ټوله دنیا کښې د ټولې دنیا قامونه، د ټولې دنیا حکومتونه، د ټولې دنیا قامونه خپلو بچو ته په خپله مورنئ ژبه کښې سبق ښائی، نو آیا بیا دا زما د کلچر عکاس دے چې دلته زه پښتو وایم، دلته زه هندکو وایم، دلته زه سرائیکی وایم، دلته زه چترالی وایم، نو ته ما ته په انګریزئ کښې سبق ښائې نو دا خو جی سی سی ما سره په ګاؤنډ کښې دے، انډیا ما سره په ګاؤنډ کښې دے، بنګله دیش ته اوګورئ، سری لنکا ته اوګورئ، چائنا ته اوګورئ، افغانستان ته اوګورئ، یورپ ته اوګورئ او بیا مغرب ته اوګورئ چې دې قامونو او دې حکومتونو چې ځان د تهذیب یوې درجې ته رسولے دے نو په دې نه دے رسولے چې هغوی خپلو بچو ته په پردئ ژبه کښې سبق ښائی، هغوی خپلو بچو ته په خپله ژبه کښې سبق ښائی او زما حکومت ما له د دې خبرې جواز دا راکوی چې سبا به زما بچې په کمپیوټر یو ایګزام کښې کښینی نو بیا به هغه Competition نشی کولې۔ سپیکر صاحب! چې کله زه خپلو بچو ته Concept clear نکړم او Concept خو دا خو انټرنیشنل مسلمه حقیقت دے چې په مورنئ ژبه کښې به بچی ته Concept چې دے هغه کلیئر کیږی، نو چې کله زما بچو ته Concept clear شی نو بیا Conversion چې دے، بیا Translation چې دے دا ګرانه خبره نه ده۔ سپیکر صاحب! د اسلامیاتو په حواله باندې په دې فورم باندې دا خبره کوم چې د نوی سکیم آف سټډیز مطابق اسلامیات په 9th کښې، په 10th کښې، په 11th کښې او په دولسم جماعت کښې څلورو جماعتونو ته اورسیدو، نو چې په څلورو جماعتونو کښې دا اسلامیات پړهاویږی نو پکار ده چې مونږ ټول په خپلو ذهنونو باندې بوجه واچوؤ چې آیا په هغې کتابونو کښې به

متن سیوا کیږی او که نه به سیوا کیږی؟ نو چې مونږ اسلامیات ورته بنایو، په مذهبی علومو کښې ورته مونږ اسلام ښایو نو چې کله د کتاب متن سیوا کیږی، احادیث به سیوا کیږی، آیات کریم به سیوا کیږی، زمونږ د تاریخ اسلام واقعې چې دی، هغه به سیوا کیږی، بهرحال د دې نه ډیبیټ نه جوړوؤ، زما به حکومت ته دا خواست وی چې منسټر صاحب پاڅی او وضاحت کوی سپیکر صاحب! زه درته په ایډوانس کښې وایم چې بیا به زه پاڅم، ما وضاحت د دې د پاره کولو چې دا شک د خلق د ذهن نه اوباسی چې ګنې خدائے مه کړه د کشمیر نقشه که غلطه جوړه شوې ده نو دا خبره د دې سره منسوب کول، که نن عاطف خان منسټر دے، ټیکسټ بک بورډ کتاب چهاپ کوی، سبا به په معاشرتی علوم کښې یو غلطی شوې وی، زه به کم از کم څنګه وایم چې دا به ورته عاطف خان وئیلی وی یا دا ورته پی ټی آئی وئیلی دی۔ سبا به د جماعت اسلامی حکومت وی، په ټیکسټ بک کښې به یو غلطی راشی، بالکل دا غلطی چې ده، دا په کتابونو کښې اوس نه، په تیر وختونو کښې هم راغلې ده، په تیر وختونو کښې هم راغلې ده، ضروری خبره ده، ما هم په خپل وخت کښې چې ډیر کتابونه به ما کهلاؤ کړل په هغې کښې به غلطی وه، باقاعده به مونږ د هغې سبجیکټ سپیشلسټ خلاف به مونږ انکوائری هم کوله، هغوی له به مونږ سزا هم ورکوله۔ زما به خواست دا وی حکومت ته چې د دې نه ګرم ماحول مه جوړوئ، په دې خبره د ټولو اتفاق دے چې ټول مسلمانان یو، په دې نیت به په یو بل بالکل شک نه کوؤ، نه به یو بل له سرټیفکیټ ورکوؤ، نه به یو بل له پیغور ورکوؤ، چې کومه خبره ده، زما به ورته دا خواست وی چې دا یو مشترکه اشتراکی کار دے، پکار دا ده چې دا حکومت کومه لار خپله کړې ده چې Solo flight کوی، دا Solo flight د اودروی، دا Solo flight د دوئ اودروی، دا ټول پارلیمانی لیډرز چې دی دوئ د کښینوی، دوئ د بریف کړی، Curriculum د ورته اووائی، درسی کتب د ورته اووائی چې کوم چینجز آیا او بالکل دې Curriculum کښې د چینجز اختیار چې دے دا د صوبې سره دے، دا اوس د مرکز سره نه دے۔ که دوئ اراده هم لری، زما به ورته دا خواست وی چې د دې معاشرې ټول Stakeholders چې دی، هغوی د

راولی، هغوی د کبنینوی، زما یقین دا دے چې دا تضادات او دا مخالفتونه چې دی، دا به بیا نه راځی۔ مهربانی جی۔

جناب سپیکر: یو خو زما خیال دے عاطف خان، یو منټ عنایت خان! یو منټ دې باندې که تاسو دا غواړئ چې Detailed discussion د وشی نو بیا به Proper دغه ته مونږ ایږدو او که زما خیال دے چې وضاحت وشی او ډیټیل۔۔۔۔

جناب محمد عاطف (وزیر برائے ابتدائی وثانوی تعلیم): زه سپیکر صاحب!

جناب سپیکر: ہاں، عاطف۔۔۔۔

(شور)

جناب سپیکر: اچھا عاطف خان! ته چونکه 'کنسرنډ' منسټر۔۔۔۔

وزیر برائے ابتدائی وثانوی تعلیم: سپیکر صاحب، ګورئ جی یو خو زما په خیال چې د دې سره به ټول Agree کوی چې چا مسئله راا وچته کړې وه یا چا پوائنټ آؤټ کړې وه نو هغه مطمئن دے، هغه زما د جواب نه مطمئن دے چې هغه ته دا Satisfaction او دغه پکار دے چې یره هیڅ، ان شاء الله هیڅ داسې څه دغه به نه وی۔۔۔۔

جناب سپیکر: مفتی صاحب!۔۔۔۔

وزیر برائے ابتدائی وثانوی تعلیم: چې په هغې کبنې زمونږ دین ته دغه هیڅ قسم له څه دغه نه وی، مونږ الحمدلله مسلمانان یو، داسې هیڅ څه خبره به نه وی۔ دویمه خبره زما په خیال د دې نه سیاست جوړول نه دی پکار، د دې پوائنټ سکورنګ نه دی جوړول پکار چې یره هر یو، دا یو ډیره Sensitive issue ده، یو خو نمبر ون ډیره Sensitive issue ده، ډیر Important issue ده او په دیکبنې زمونږ نورې ډیرې لوئے لوئے مسئلې دی، بجائے د دې چې مونږ په دې باندې انبنلو چې یره دا تصویر داسې کړه او دا تصویر هغسې کړه ،زمونږ ډیر لوئے نور ایشوز دی، پکار ده چې مونږ په هغې باندې Concentrate کړو او ورسره بابک صاحب چې څنګه اووئیل چې کله مونږ په Curriculum کبنې چینجز راولو نو مونږ به ټول څنګه چې دوئ اووئیل Stakeholders به مونږ د ځان سره شاملوؤ، که

Educationist دی، نو دا ډیر ټیکنکل څیز دے ، په دې باندې خو نه زه پوهیږم، نه پرې بابک صاحب پوهیږی، نه پرې بل څوک پوهیږی، دا خو د دې خپل Educationist دی، د دې خپل ټیکنکل خلق وی چې کوم Chapter څومره پکار دے ، په کوم کلاس کښې سبق څومره پکار دے ، کوم سبجیکټ څومره پکار دے ، نو ان شاء اللّٰه تعالیٰ چې کله په Curriculum کښې چینجز کیږی، ټول Stakeholders چې څومره دی، مونږ به هغوی سره ان شاء اللّٰه تعالیٰ مشوره کوؤ، خبره به کوؤ او هیڅ به داسې خبره نه کیږی چې په هغې به دا خبره مونږ راغونډه کړو۔ مهربانی۔

جناب سپیکر: زما خیا دے که څه دا منور خان! یو خو بیا د Detailed discussion د پاره منظور کړو، که تاسو وایئ نو د ډیټیل د پاره۔۔۔۔۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: جی،جی،اچھا،جی۔

جناب منور خان ایڈوکیٹ: جناب سپیکر صاحب، څنګه خبره چې عاطف خان اوکړه او دې دواړو، دې سائډ ته هم او هغه سائډ ته هم، ټولو لکه د دوئ خبره Appreciate کړه او بابک صاحب چې کومه خبره اوکړه، په دې خو داسې څه Dispute شته دے نه، لکه عاطف خان چې کومه خبره اوکړه چې مونږ د اسلام خلاف به څنګه ځو، د دې صوبې د کلچر خلاف به مونږ څنګه ځو، دا څیز خو ایډمټ دے چې یره بهئ دا څیز، زه وایم په دې باندې مزید، لکه دا بابک صاحب دوئ دا عنایت اللّٰه خان صاحب جواب ورکوی، بل طرف ته خو به بیا بل جواب ورکوی نو زه وایم چې دا څیز، مفتی صاحب ته هم دا خواست کوؤ چې دا څیز په دې ځائې باندې سټاپ کړی۔

جناب سپیکر: اوکے۔ بس وایئ چې مخکښې ځو جی، جی۔

مفتی سید جانان: جی جناب سپیکر صاحب!

جناب عنایت اللّٰه {سینئر وزیر (بلدیات)}: جناب سپیکر!

جناب سپیکر: عنایت خان! ستاسو Viewpoint، ستاسو Viewpoint بنه پوره راغے۔ تاسو یو منټ منټ، مطلب دا دے چې ګوره یا خو پرې د Detailed discussion د پاره ټائم دغه دے، ستاسو View point بنه پوره راغے۔

مفتی سید جانان: جناب سپیکر صاحب! دا خبره راغونډوم په دې ځائې کښې-----

جناب سپیکر: جی جی، مفتی صاحب! راغونډه ئے کړه۔

مفتی سید جانان: زه جی ماشاءاللہ او دلته به ان شاء اللہ یو بل باندې دا شک نه کوؤ چې دا زیات مسلمان دے او زه کم مسلمان، مونږ ټول، دا ټول به زما نه زیات مسلمان وی، زه به د هغوی نه کمزورے یم، مونږ خو دا ګمان یو بل باندې کوؤ، ټول بنه ایماندار خلق دی، ان شاء اللہ مونږ د چا په نیتونو شک نه کوؤ خو زه سپیکر صاحب! هغه خبرې ته، بیا زه هغه خبره کوم چې دلته مونږ ته یقین دهانی وشی خو وروستو بیا د هغوی یقین دهانی نه وی۔ عاطف خان او عنایت اللہ صاحب دغه دواړو چې ما ته کومې یقین دهانئ راکړلې، په دغه یقین دهانو باندې به دوئ قائم وی، اللہ ته به جوابده وی، دغې اسمبلئ ته به جوابده وی (تالیاں) زه په هغه بنیاد باندې دا خپل چې کوم تحریک التواءجمع کړے دے، دا واپس اخلم۔

جناب سپیکر: شوکت خان! تاسو هغه دغه پیش کوئ، یو منټ د دې دغه نه مخکښې دا یو ریزولیوشن، دوئ ریکویسټ کړے وو دا ریزولیوشن به مخکښې راولو، بیا به د هغې نه پس مخکښې ایجنډا به بیا اوکړو۔ Rules relaxation, rules relaxation د پاره ریکویسټ اوکړه۔

جناب شوکت علی یوسفزئی: زه تحریک پیش کوم، جناب سپیکر! چې-----

جناب سپیکر: دا Basically هغه شناختی کارډز چې کوم بلاک کیږی، په هغې باندې۔

قاعدہ کا معطل کیا جانا

جناب شوکت علی یوسفزئی: جناب سپیکر صاحب! د Rule 240 لاندې که دا Rule relax شی او زه دا قرارداد پیش کړم نو ستاسو به ډیره مهربانی وی۔

جناب سپیکر: ورو ورو دا دغه ایزده کړئ کنه۔ (قہقہہ)

(قہقہے)

جناب سپیکر: بس هغه مونږ Rule relax کړو۔

Is it the desire of the House that rule 124 may be relaxed under rule 240, to allow the honourable Members, to move their resolution? Those who are in favour of it may say 'Yes' and those who are against it may say 'No'.

